# خدائي خدمتګار تنظیم

نور احمد فطرت



د پښتو ادب لومړے دور له دوهمې هجرۍ پیړۍ څخه پیل کېږي او د یوولسمې هجرۍ پېړۍ تر وئیلو پورې دوام کوي. د پښتو د لومړۍ دورې په اثارو کښې یوازې د سلمان ماکو د تذکره اولیا د بشپړ کتاب ځینې برخې مونږ ته رسېدلې دي. د پښتو ادبیاتو د تاریخ دویمه دوره چې منځنې (متوسطه) دوره هم ور ته ویلے شو د لسمې هجرۍ پیړۍ تر لومړیو دوو دریو لسیزو پورې رسېږي. د پښتو د ادبي تاریخ دویمه دوره له لومړۍ دورې څخه په هر لحاظ کامل توپیرونه لري په دې دوره کښې پښتو ادبیات د افغانستان او پښتونخوا او هند په سیمو کښې له ځینو ملي، مذهبي او پښتني جنشونو سره په ارتباط کښې ایجادېږي.

په قول د زلمي هېوادمل صاحب دې دورې ته مونږ د منظومو اثارو دوره هم وئیلے شو او دا ځکه چې په لومړي دورې پورې مربوط آثار زیاتره متفرق دي. هېواد مل صاحب دا دوره له روښاني غورځنګ څخه پیل کوي. په هم دغه دوره کښې اخوند درویزه،خوشحال بابا، رحمان بابا، حمید بابا،علي خان بابا او د نورو لیکونو پیروان هم را اخلي. وروسته دے دا دوره پائې ته رسوي او ځائې ئې دریمې معاصرې دورې ته ورکوي. (وګورئ پښتو ادبیاتو تاریخ) مخونه 84-85-86 او داسې نور لنډ ډول کتلو سره مونږ دریمه معاصره دوره د خدائي خدمتګار تنظیم او

سترې ادبي دورې ته وئيلے شو ځکه چې دغه ادبي، مذهبي او سياسي سازمان نۀ يواځې دا چې پښتانه په خپلو ځانګړو حقوقو خبر کړل بلکې دغه جنبش د پښتو ژبې او ادب په وده کښې هم ستره ونډه واخسته. دغه دورې پښتو ته په سوونو معياري کتابونه ورکړل او په سوونو شاعران او ليکوالان ئې هم وروزل.

فيض محمد خان لالا وائي چې باچاخان او د دۀ لومړے انجمن اصلاح الفاغنه تنظيم جوړ کړے د دې تنظيم کار پښتانه د تربګنو،دښمنيو او غلطو رسمونو نه ژغورل وو او په پښتنو کښې د تعليم شوق پيدا کول وو. وګورئ ,,پښتون،، مجله دوهم کال لومړۍ ګڼه جنوري ۲۰۰۷ باچاخان او د دۀ ملګري په ۱۹۲۸ کښې پښتون مجله راوباسي او په ۱۹۲۹ کښې د يو رضاکار تنظيم خدائي خدمتګار د تاداو ډبره ږدي. په قول د اروابښاد خان عبدالولي خان خدمت د هر څه د پاسه د دوي ناره وه دوي سوګندونه پورته کړل چې عدم تشدد به د دوي مسلک وي په قول د ملي قايد د بې تعليمه اکثريت لپاره ډرامې په ستېج وشوې. مشاعره هم د دې سالانه تقريب يوه برخه وه د محبوب په حسن او د ګل يا بلبل باندې په دغه مشاعره کښې کومه توجو وشوله د وطن سره د مينې په جذبو باندې زيات زور راوړل شو.

دا خبره هم د ستاينې وړ ده چې ,,پښتون،،رسالې په افغانستان کښې هم ښه اثرات خواره کړل. پښتون رسالې په غازي امان لله خان هم ډېر اثر وکړو. په ۱۹۳۰ کښې سالانه تقسيم انعامات تقريب هم د خلقو لپاره ډېر خوندور ؤ. وګورئ د ولي خان يوه ليکنه (د باچاخان ژوند او فکر) ژباړه روح الامين مخ 27-28 دغه تنظيم په قول د فيصل فاران ,, تعليم ته ډېره توجه ورکړله په ۱۹۳۵ کښې دغه تنظيم د اتيا څخه زيات ښوونځي درلودل. (وګورئ د باچاخان ځانګړے کتاب) دغه ستر تنظيم د پښتنو ماشومانو ته د ټوپک په ځائې د قلم اګاهي ورکړه. دغه لوئې سازمان د پښتو ژبې په شاته پاتې ورځ باندې غاوي وکړې. ډېر پښتانه ځوانان چې وروزل دوي بيا پښتو ته په نثر او نظم کښې په سوونو بلکې په زرګونو کتابونه ورکړل.

دوي د ښځو د بېدارۍ هڅې هم وکړې. ښځې ليکوالانې ئې هم پېدا کړې. په دغه لوئې سازمان کښې پروفيسران،وکيلان او قامي مشران شامل شول. په قول د ولي خان په هند او بيا په خاصه توګه په دې حساسه او اهمه صوبه کښې دا قسمه سياسي تنظيم او فعاليت د فرنګيانو د برداشت نه بهر شو. باچاخان او د دۀ ملګري ونيول شول او د ګجرات په جيل کښې واچول شول. صوبه فوځ ته حواله شوه. د چارسدې په ډېرو کلو باندې يرغل وشو. مسلم ليګيانو په دغه تنظيم

پسې د هندوو هندو پروپیګنډې پېل کړې. د پاکستان د جوړېدو نه پس په یوه هفته کښې دننه د خدائي خدمتګارو حکومت برطرفه کړل شو. د بابړې واقعه پېښه شوه چې په کښې شپږ سوه یا تر دغه زیات آزادي غوښتونکي شهیدان کړے شول. کورونه لوټ شول. جائیدادونه ضبط شول. د پښتنو د کورونو بې عزتۍ وشوې. دومره ظلمونه خو فرنګیانو هم نۀ وو کړي لکه څنګه چې دوي وکړل.

باچاخان شپږ کاله کړل قید شو. وګورئ د ولي خان مقاله (د باچاخان ژوند او فکر) مخونه 28-29-30-31 . ادبي سیاسي او مذهبي سازمان خدائي خدمتګار یو اوږد نظم دے چې ما (فطرت) په ډېرو خواریو ترتیب کړے دے. د دغه تنظیم څخه مې مخکښې مخکښې پر شاته کړکېښې هم څه نظر زغلولے دے. اریائي دورې ته تللے یم بدمت او هندومت مې هم یاد کړي دي. په سندھ ایالت کښې تاریخي ځایونو، موهن جوداړو، مهرګړھ ته هم ورښکاره شوے یم. د راجه داهر او محمد بن قاسم دورې مې هم یادې کړې دي. غلجیان غوریان مې هم څېړلې دي. بنګال تر پانې پته تر شیرشاه سوري تر کندهاره مې هم منډه وهلې ده.

☆☆☆

## محترمه فوزیه انجم په حق ورسېده

د پښتو نوموړې شاعره او لیکواله پروفیسر فوزیه انجم امریکه کښې په حق ورسېده. انا الله وانا الیه راجعون.

د محترمې فوزیه انجم خپل نوم زینت انجم خټک ؤ. دا په کال ۱۹۳۹ کښې د صوابۍ ضلعې جهانګیري کلي کښې زېږېدلې وه. د ابتدائي تعلیم نه پس ټول سبق ئې په خپل کور کښې وئیلے ؤ. په نفسیاتو،اردو او پښتو کښې ئې ماسټر ډګرۍ د پېښور پوهنتون نه ترلاسه کړې وې. اول په ګورنمنټ کالج کښې لیکچرره وه. روستو د پېښور پوهنتون پښتو څانګه کښې لیکچرره شوه. د ریټائرمنټ نه پس امریکې ته لاړه او هلته د وائیس آف امریکه پښتو سروس سره ئې ځان وتړلو. پاکستان کښې هم د ریډیو پاکستان پېښور سره وابسته وه او د خوئیندو د مشهور پروګرام کمپېره وه.

د شاعرۍ نه علاوه ئې افسانې او شرعي ادب تخلیق کړے دے. د اتۀ اویا (۷۸) کالو په عمر کښې د وفات نه پس هم امریکې لاس اینجلس کښې خاورو ته وسپارل شوه.

الله تعالی دې ور ته جنتونه ورکړي. د ,,پښتون،، اداره د غم ځپلې کورنۍ سره په دې لوئې غم کښې پوره پوره شریکه ده او دعا کوي چې غم ځپلې کورنۍ ته دې الله پاک صبر ورکړي او مرحومې ته دې واړه جنتونه نصیب شي. آمین.